ليکوال: سرلوڅ مرادزی نېټه ۱۵-۰۱-۲۰۱۱

# ايران د افغانستان په اړه د ګورګين خوبونه ويني

د افغانستان په اړه د ايران اوسنی سياست هغه وضعي ته ورته پاتيږی چې د ۱۸ مې پيړی په لومړيو کې صفويانو د ګورګين په مټ افغانانو سره په تېره بيا په کندهار کې چلاوه. د خونړي ګورګين تېريو، ظلمونو او وحشتونو افغانان دې ته اړويستل چې له هر توپير پرته پخپل ملي مشر ميرويس خان راټول شي او افغانان د ګورګين او صفويانو له شر څخه د تل لپاره خپلواک کړي. د تاريخ په وينا په هغه ملي پاڅون کې چې د ګورګين په وړاندې وشو، افغانانو د هغه ټول پلويان او سرتيري د ګورګين په ګډون له تيغه تېرکړل او له مخې يي جارو کړل. کله ناکله تاريخ پخپله زړه بنه بيا تکراريږي. د ايران په پلاز ناست د قم مذهبي لنډه غر، بدماشان او د ګورګين سلفيان غواړي د افغانانو په وړاندې يوځل بيا د ګورګين د وخت بربريت او وحشت وچلوي او د افغانانو د وسمهال پوهه، زيرکی او ميړانه وننګوي او هغه وازمايي.
د تاريخ په شهادت کله چې به مغلو او روسته برتانوي هند افغانانو سره شخړه درلوده، ايران به تل افغانان له خوړې ګوتې نيول او د افغانانو په وړاندې به د نورو هېوادونو او ځواکونو په ملاتړ او مرسته درېدل. د شا لخوا وهل او په چلوټې سره نورو دوښمنانو ته افغانان له پښو نيول، د افغانانو په وړاندې د ايران د زاړه او مکار سياست منځړی جوړوي .
نن چې ايران پوهيږي افغانان د بل شرير ګاونډي پنجاب سره لاس وګريوان دي نو وخت مناسب ګڼي ، په پخوانيو کونجاړو شخوند وهي او بيا د ګورګين خوبونه ويني.
که په تېرو ديرشو کلونو کې د افغانستان په اړه د ايران سياست ته ځغلنده کتنه وشي، ايران نه يوازې د ښه ګاونډيتوب ټول ارونه تر پښو لاندې کړي، بلکې تل يي د پنجاب پشان د افغانستان په کورنيو چارو کې لاسوهنه کړي، افغانستان ته يي مذهبي لنډه غر روزلي او پاللي او د افغانستان په شخړه يي تېل پاشلي دي.
ايران موږ ته مذهبي توندلارې، سخت دريځه او ترهګر روزي ددې لپاره چې سبا ته افغانستان هم د ايران پشان د مذهبي ليونيانو تر واک لاندې وي. افغانستان هم د قم د شاګردانو تر اداري لاندې راشي. افغانان د ايرانيانو پشان مذهبي اندونه خپل کړي، هره ورځ او که نه کال کې څو اونۍ ځانونه په تورو او لښتو ووهي او نړيوالو ته د خپل مذهبي جنون ننداره په نوې بڼه وښۍ. ايران د پولې ختيځ ته د شيعه امپراتورۍ د غځولو د نيت تر څنګ غواړي د خپلې ژبې او کلتور د پراختيا بولاله، د ګډې تمدنې حوزې تر چتر لاندې په افغانستان کې د خپلو تالي څټو او لاسپوڅو په مټ وغړوي.
څنګه چې افغانستان کې د ملي پياوړي واکمنۍ شتون پنجاب ته د زغم وړ نه دی ، ايران هم د خپلو لاسپوڅو په مټ د داسې واکمني ستنې درېدو ته نه پرېږدي.
« د ويکي ليکس د نويو اسنادو له مخې ايران د افغانستان په ولسي جرګه کې يو شمېر استازي د دې لپاره اخيستي ، چې د دوی له ګټودفاع وکړي
ويکي ليکس په دغه لړ کې د سيد حسين عالمي بلخي، محمد اکبري او احمد علي جبرئيلي نومونه ياد کړي دي .
ايريش ټايمز هم په خپل يوه ګزارش کې ليکلي ، چې ايران د ولسي جرګې په ټاکنو کې پراخه لاسوهنه کړې او يو زيات شمېر نوماندانوته يې پيسې ويشلي او ورسره يې د ټولټاکنو کميسون يو شمېر غړي په پيسواخيستي».
د ۱۳۸۹ کال د ليندۍ په ۲۰ مه د « کليد » په نوم رسنۍ د يونس قانوني په اړه په يوه څرګندونه کې ليکي :
«ايران کوشش داشته تا آنچه مورد نظرش باشد در جلسات ولسی جرگه مطرح شود. اين را ياسينی معاون ولسی جرگه افشا کرده است. هم چنان ياسينی گفته است که اخيراً سفارت ايران از او خواسته است تا در دور جديد پارلمان برای رياست ولسی جرگه، مقابل قانونی کانديد نشود و اين نشان می دهد که قانونی يکی از دوستان ديگر ايران است که نظر و سياست ايران را تا جايی که ممکن باشد، در ولسی جرگه پياده می‌کند . »
دا چې د ژمي په سوړ موسم کې ايران، د افغانانو لخوا په اخيستل شويو تيلو افغانستان ته دانتقال بنديز لګوي شا ته د ايران د يادو شويو موخو لاس په ډاګه کوي. «افغانستان کې د ايران سفير فدا حسين مالکي دغه هېواد ته د ايران له لارې د تېلو په واردولو انديښنه څرګنده کړې او ويلي يي دي چې افغان حکومت دې د تېلو په ويش کې له جدي څارنې کار واخلي . مالکي دا هم ويلي: دوی خپل هېواد له ټرانزيټ څخه افغانستان ته دلېږدونکو تېلو په اړه داسې راپورونه ترلاسه کړي، چې ګواکې تر نيمايي زيات يې په دغه هېواد کې دامريکا ترمشرۍ لاندې مېشت بهرني ځواکونه کاروي. نوموړي داهم ويلي، چې خپله اندېښنه يې افغان حکومت ته اعلان کړې او دافغاني تاجرانو دتېلو او


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ

سونګ موادو دانتقال په اړه یوشمېر ملاحظات لري، چې په پام کې نیولو سره یې باید دایران د حکومت اندېښنې له منځه ولاړې شي »

ایران په دې چلند غواړي د امریکا او لویدیځ سره افغانستان ، د سیالۍ او شخړې په سنګر بدل کړي .

د ایران د داسې ناخوالو په اړه پکار دا وه چې افغان دولت غوڅ او پریکنده اقدامات تر لاس لاندې نیولای واي ، خو په افغان دولت کې د ایران ناست تالي څټي د دولت د داسې اقداماتو مخه نیولې ده .

خمو بلخوا د جنوري په ۷ مه په کابل کې په لسګونو کسانو د ایران پر خلاف په مظاهرې لاس پورې کړ، دوی چې د ایران د سفیر او د دې هېواد پرضد یې شعارونه ورکول له دولت څخه غوښتنه کوله چې د دې هېواد په وړاندې جدي اقدامات وکړي. مظاهره چیانو ویل چې ایران د افغانستان له اوبو څخه استفاده کوي خو په بدل کې یې له افغانانو سره داسې سلوک کوي چې کفري هېوادونه یې هم نه کوي. دوی ویل چې د ایران له لوري افغانستان ته د تېلو د تلونکو ټانکرونو مخنیوي په افغانستان کې د تېلو بیې لوړې کړي، دغه راز مظاهره چیانو په ځینو تصویري رسنیو کې د ایران د امنیتي ځواکونو له لوري د افغانانو وژنه او د دوی پر مړو او ټپیانو خندا د ټولو موازینو او اساساتو خلاف عمل وباله.

د خواشینۍ خبره دا ده چې د جنوري په ۱۴ مه « نن په کابل کې د ایران سفیر ایرنا خبري اژانس ته ویلي چې د افغانستان له حکومته یې غوښتنه کړې چې هغه کسان ونیسي چې د پنجشنبې په ورځ یې د ایران د سفارت مخته د ایران د وروستیو پالیسیو پرضد مظاهره کړې . »

دا په حقیقت کې د ایران دولت له حده زیاته سپین سترګي او ناړامي ښيي . افغان دولت ته پکار دی چې د ایران د سفیر د دا دول بې ادبه او دیپلوماتیکو اړیکو له کچې د پورت څرګندونو ا وغوښتنو پر ځواب کې ، افغانستان څخه د نوموړي سفیر د رخصتېدو مراتب له ایراني چارواکو سره شریک او راګرندي کړي .

پای

اخځونه :

ــ ببلا ببلي بریښپاڼي



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ